# شتمني SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: زړونه هم زنګ نيسي لکه، اوسپنې ته چې اوبه ورسيږي. پوښته خيني وسوه، چي يا رسول الله! د صفا کېدو طريقه ئې څنګه ده؟ نبي عليه السلام وفرمايل: مرګ ډېر يادول او د قرآن کريم تلاوت کول. [رواه البهيقي في شعب الايمان.]

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرمايد: قلب ها نيز زنګ زده می شود؛ مانند که آب به آهن برسد. از ايشان پرسيده شد يا رسول الله! طريقه پاک کردنش چيست؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمود: به ياد افتادن مرګ و تلاوت قرآن کريم. [رواه البهيقي في شعب الايمان.]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


پنجشنبه | د رجب المرجب ۷-۱۴٤۵ال س/ د مرغومي ۲۸-۱٤۰۲ال ل/ د جنوری ۱۸-۲۰۲٤ز/دوهم کال / ۸۳ ګڼه/ ٤ مخيز ۱


## سر مقاله

### خروجی پالیسی حمایتی از شرکت های دولتی

بر کسی پوشیده نیست که اصلاح ساختاری و مدیریت شرکت های دولتی کشور، در واقع بزرگترین گام برای اصلاح ساختارهای اقتصادی افغانستان و سرو سامان بخشیدن بر وضعیت رشد اقتصادی و رشد پایدار مالی کشور است. با نگاهی بر عملکرد شرکت های دولتی قبل از جنگ های خانمان سوز در کشور درمی یابیم که شرکت ها چنان نقش درخشانی در اقتصاد ملی ما داشته اند که بیش از نیم بودجه کشور را تمویل می نمودند و بیشتر از سائر بخش ها در درآمدزائی و اشتغال زائی نقش داشته اند. اما در سال های اخیر به دلیل نبود توجه و نداشتن استراتیژی مشخص در این بخش، سهم تصدی ها و شرکت های دولتی کم رنگ شده و به کمتر از یک درصد کاهش یافت. با شروع جنگ های داخلی اکثراً زیرساخت های تولیدی و اقتصادی افغانستان ویران گردید، تصدی ها و شرکت های دولتی نیز از اثرات این جنگ ها به دور نمانده و ضربه های سنگینی بر پیکر این بخش ها وارد شد و چرخه فعالیت های اکثریت آنها به رکود مواجه گردید. نکته درخور توجه در دنیای امروز در خصوص شرکت های دولتی توسعه روز افزون آن است. اما متاسفانه در کشور ما در بیست سال گذشته توجه جدی ای در این بخش صورت نگرفته و در سال های قبلی دولت ها از نبود یک استراتیژی جامع و مشخص در زمینه احیای مجدد شرکت های دولتی رنج می برد و یکی از چالش های عمده در این بخش، فقدان توجه لازم و بی برنامه گی به شمار می رفت. با روی کارآمدن نظام جدید در کشور، تلاش های زیادی صورت گرفت تا شرکت های دولتی به عنوان یک چشمه جدید عوایدی به پای خود ایستاده شوند و نقش قدیمی خود را در راستای کمک به بودجه ملی کشور بازیابی نمایند. به همین منظور در قدم نخست یک هماهنگی بهتری میان وزارت مالیه و شرکت های دولتی ایجاد شد و بر مبنای پلان منظم در نخست روند ارزیابی شرکت های دولتی آغاز گردید، هدف آنست که در گام ابتدائی تمام دارائی های موجود شرکت های دولتی از نگاه منابع بشری، سرمایه و جایداد های شرکت های دولتی مورد بررسی قرار بگیرد و بعداً به اساس آن اصلاحات تدریجی در شرکت ها تطبیق گردد. در نتیجه این اصلاحات، ریاست عمومی شرکت های دولتی در همکاری و هماهنگی با شرکت ها توانست که در حدود بیست هزار جریب زمین را از چنگ عاصبین دوباره به نفع دولت استرداد نماید. همچنان از ابتدای تشکیل دولت جدید تا اکنون (۱۳) شرکت دوباره به فعالیت آغاز نموده است و دولت در نظر دارد تا (۷) شرکت متباقی را طی آینده های نزدیک دوباره فعال نماید و کمیته بزرگی در این راستا تشکیل گردیده و امور تخنیکی و نظارتی را فعالانه به پیش می برد. همچنان برنامه های جامع روی دست است تا به اساس دیدگاه کلان رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی، تمام شرکت ها را به صورت تدریجی احیا و مجدداً از طریق و شیوه های مدیریت مرکزی و همکاری وزارت مالیه با پشتوانه مکمل دولت و سکتور خصوصی به رشد پایدار ملی و اشتغال زایی و خود کفایی مالی نقش بزرگ خویش را بر مبنای اقتصاد اسلامی گام های موثر را تعقیب نمایند. همچنان تلاش ها در جریان است تا شرکت های دولتی دوباره احیا شوند و این بخش مهم به یک چشمه بزرگ عایداتی به کشور مبدل و بخشی از مفاد شان را به خزانه ی دولت واریز کنند. همچنان مطابق به برنامه های جامع هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی تمام مقدمات برای فعالیت های شرکت های دولتی نساجی آماده شده است و قرار است که در آینده های نزدیک این بخش مهم نیز فعالیت هایش را از سر بگیرد. در اخیر باید یادآور شد که وضعیت و سرنوشت شرکت های دولتی امروز با سیاست های حمایتی دولت گره خورده است، طوریکه معلوم است شرکت های دولتی بخش قابل توجهی از بودجه سالانه کشور را به خود اختصاص می دهند. تقویت این شرکت ها جدای از اینکه بودجه جاری ملی کشور را تقویت می نماید، بار دوش مالی را کاهش داده و باعث از بین رفتن انحصار در بازار گردیده و عامل ایجاد فضای کار و رقابت با سکتور خصوصی می شود و مارکیت را در تنظیم نرخ های بازار کمک می نماید.

**با احترام**

**اداره**

# د ۱۴۰۳ مالي کال لپاره د نويو پراختيايي پروژو د ټاکني او لومړيتوب ورکوني په موخه غونډه ترسره سوه



د پروژو د ارزوني کمېټې (PEC) د (۱۴۰۳ ل) مالي کال لپاره د نوو پراختيايي پروژو د ټاکنې او لومړيتوب ورکوني په موخه غونډه، د پاليسۍ معينيت د عامه پانګوني د مديريت رئيس جليل احمد ميوندي په مشرۍ او د ماليې وزارت د ملي بوديجې د پلان او ريفورم رئيس غلام عمر عبدالله د اقتصاد وزارت د طرحو او توحيد رئيس حفيظ الله سلطاني د اسلامي امارت د چارو ادارې د اقتصادي همکاريو د انسجام او همغږۍ رئيس محمد اجمل خان کريمي او د ماليې وزارت يو شمېر نورو مسئولينو په ګډون د دغه وزارت د پاليسۍ معينيت د کنفرانسونو په تالار کې ترسره سوه. په ياده غونډه کې د بوديجوي واحدونو د پراختيايي پروژو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وسوه، چي کمېټې ته د (۱۱٤) وړاندي سوو پروژو له ډلي ئې (۲٦) پروژې د يادي کمېټې له لوري تائيد او پاتي نوري پروژې راتلونکي غونډې ته وځنډول سوې؛ ترڅو کافي معلوماتو او اسنادو ته په کتو وڅېړل سي. د يادوني وړ ده، چې د عامه پانګوني د تنظيم مديريت د مقررې له مخې، د بوديجوي واحدونو ټولي نوي پروژې د پراختيايي لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره، له پانګوني مخکې پړاو کې د پروژو د ارزوني کمېټې (PEC) لخوا د لومړيتوب ورکوني او ټاکنې پروسه ترسره کېږي.

# د څه باندي (۱۰۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د خوست محصولي ګمرک د موټرونو د تم ځای جوړېدو چاري پيل سوې




د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر ادريس، چي د ګمرکونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد او د حمايت او پراختيا رئيس محمد موسی عمر ئې ملتيا کوله، په رسمي سفر خوست ولايت ته ولاړل او هلته ئې د ياد ولايت په ګمرک کې د (۱۰۵.۹٦۳) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو د تم ځای جوړېدو پروژې د پيلېدو پرانيستنه وکړه. په دې پرانيستغونډه کې، چې د خوست ګمرک رئيس هم شتون درلود، د ګمرکونو او عوايدو معين وويل، دا ډېر د خوښۍ ځای دئ، چې دا پروژه هم د نورو پراختيايي پروژو په څېر د هيواد له ملي عوايدو څخه تمويلېږي. نوموړي په ګمرکونو کې د داسي پراختيايي پروژو پلي کول په هيواد کې د سوداګرۍ د لا ودې او سوداګرو او موټر چلوونکو ته د اسانتيا رامنځته کېدو په برخه کې اړين ياد کړل. د ګمرکونو لوی رئيس له ګډونوالو سره د دې پروژې تخنيکي معلومات شريک کړل او ژمنه ئې وکړه، چې اړتيا ته په کتو سره به په نورو ګمرکونو کې هم ورته پروژې پلي کړي. د يادوني وړ ده، چې د خوست محصولي ګمرک د موټرونو تم ځای په (۱۴.۳) جريبه ځمکه کې جوړېږي او په اساسي ډول به پکښې کانګرېټ اچونه وسي، چې چاري به ئې تر راتلونکو اتو مياشتو پوري بشپړي سي.




**د ننګرهار ګمرک اړوند د کابل کمپ په ګمرک کي د (۵۱،۵) ميليونه افغانيو په ارزښت ودانيزي پروژې پيل سوې**

م ۲



**د هوټلونو دولتي شرکت کړني او لاسته راوړني**

م ۲



**مرکزي سيلو د خپلو فعاليتونو او توليداتو د لا پراختيا په موخه له يو شمېر ادارو سره قراردادونه لاسليک کړي دي**

م ۲



**په ادارو کي د وخت مديريت او اهميت ئې**

م ۳



**د نيمروز او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي**

م ۳




**Construction Projects Worth 51.5 mln Afs of Nangarhar Customs Inaugurated in Kabul Camp Customs**

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه



## د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزوني کمېټې پلاوي د هلمند بُست د پنبې او نباتي غوړیو دولتي شرکت څخه لیدنه وکړه

د مولوي احمد جان «بلال» په مشرۍ د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزوني ګډې کمېټې غړو د هلمند بُست د پنبې او نباتي غوړیو دولتي شرکت د فعالیتونو، پرمختګونو، ماشینرۍ او کارکوونکو د وضعیت لیدني په موخه هلمند ولایت ته سفر وکړ.
د یادي کمېټې مشر او مسؤلینو د هلمند بُست د پنبې او نباتي غوړیو دولتي شرکت ټولي چاري له نږدې وکتې، د ماشینرۍ او پرمختګونو ارزونه ئې وکړه، د کارکوونکو ستونزي، وړاندیزونه او غوښتني ئې واورېدې او ترځنګ ئې مسؤلینو ته د چارو د لا ښه پرمختګ سپارښتنه وکړه او هغوی ته ئې ډاډ هم ورکړ، چې ستونزي به ئې له مشرتابه سره شریکې کړي او په حلولو کې به ئې له ټولو قانوني لارو چارو کار واخلي.
د یادوني وړ ده، چې د روان کال په لومړیو کې د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) له هدایت سره سم د مولوي احمد جان «بلال» په مشرۍ یوه ګډه کمېټه جوړه سوې وه، چې د اسلامي امارت د کابینې یو شمېر وزیرانو ئې هم غړیتوب درلود او موخه ئې د دولتي شرکتونو هر اړخیزه ارزونه وه.

## د عوایدو لوی ریاست رهبرۍ د ولایتي مستوفیتونو د ارزوني بهیر پیل کړ



د عوایدو لوی رئیس الحاج شېر محمد مشفق د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال حافظ شاه حسین حسیني د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس مولوي نداء محمد صدیقي او ورسره مل پلاوي د مستوفیتونو د ارزوني او څارني په موخه ولایتي سفرونه پیل کړل، چې په دې سفرونو کې به د ټولو مستوفیتونو چاري ارزول کېږي، مستوفیانو او کارکوونکو ته به ئې د ښو لاسته راوړنو په تړاو سپارښتني کېږي او همدا شان به د دوی کاري راپورونه کتل کېږي، ستونزي به ئې اورېدل کېږي، چې بیا به ئې د حل په موخه د عواید لوی ریاست په اړه اقدام کوي.
د یادوني وړ ده، چې تر دې وړاندي هم په همدې موخه د عوایدو لوی ریاست رهبري مستوفیتونو ته سفرونه کړي ول، چې ښاغلو مستوفیانو ته ئې ورته سپارښتني درلودې او دوی ئې له خلکو او مراجعینو سره په نېک چلند مکلف کړي ول.

# د ننګرهار ګمرک اړوند د کابل کمپ په ګمرک کي د (۵۱،۵) میلیونه افغانیو په ارزښت ودانیزي پروژې پیل سوې




د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین ملا عبدالقاهر ادریس، چې د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید او د ګمرکونو لوی ریاست د حمایت او پراختیا رئیس محمد موسی عمر ئې ملتیا کوله ننګرهار ولایت ته رسمي سفر وکړ او هلته ئې د ننګرهار والي ملا محمد نعیم اخوند او د ننګرهار ګمرک رئیس محمد خالد منظور احمد په شتون کي د ننګرهار ګمرک اړوند د کابل کمپ په ګمرک کي د (۵۱،۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د ودانیزو پروژو د پیلېدو پرانېسته وکړه.
په یادو ودانیزو پروژو کي د کابل کمپ ګمرک (٦٧٠٠) متره چاپېر دېوال او (۷) بابه ټاورونه شامل دي، چې چاري به ئې تر راتلونکو لسو میاشتو پوري بشپړي سي.
د ګمرکونو او عوایدو معین د یادو پروژو د پیلېدو په پرانیستغونډه کي وویل، چې په پام کي ده د هیواد په نورو ګمرکونو کي هم ورته پراختیایي پروژې پلي سي او په هیواد کي د سوداګرۍ د لا ودې او سوداګرو ته د لا اسانتیا رامنځته کولو په برخه کي به ښې پایلي ولري.
د ګمرکونو لوی رئیس له قراردادي شرکت څخه وغوښتل، چې د پروژې په پلي کېدو کي دي په جدي توګه د قرارداد مواد او شرایط په نظر کي ونیسي او چاري دي ئې په معیاري توګه په ټاکلې موده کي بشپړي کړي.
د یادوني وړ ده، چې د یادو ودانیزو پروژو بودیجه د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي.

## د هوټلونو دولتي شرکت کړني او لاسته راوړني




د مالیې وزارت اړوند د هوټلونو دولتي شرکت، چې د معیاري هوټلدارۍ د خدمتونو وړاندي کولو، د کورنیو او بهرنیو میلمنو لپاره د مناسب تفریحي او سیاحتي فضا د رامنځته کولو له لاري د کار پیدا کولو په برخه کي فعالیت کوي، له تحولاتو او د وخت له غوښتنو او شرایطو سره سم د بېلابېلو واکمنیو په راتګ سره ډېري لوړي ژوري تجربه کړي دي او له اداري – تشکیلاتي اړخه ئې د بېلابېلو وزارتونو تر چتر لاندي فعالیتونه په خپله کارنامه کي ثبت او تجربه کړي دي.
د افغانستان د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته دولتي شرکتونو ته د عایداتي سرچینو په توګه د مالیې وزارت د پاملرني او د دغه شرکت د رهبرۍ د هلو ځلو په پایله کي بنسټیز بدلونونه رامنځته سوي دي، چې د دولتي شرکتونو د جایدادونو د بیرته ترلاسه کولو ترځنګ، د (کندهار هوټل، آریانا هوټل، باغ بالا هوټل)، ګلستان هوټل، قرغه سټار هوټل، د سپوږمۍ کافي هوټل او د استالف هوټل فعال او خدمات وړاندي کوي.
د دې ترځنګ د دغه شرکت د رهبرۍ په سم مدیریت سره، له (۲۰۰۵ز تر ۲۰۱۵ز کال پوري) د آغا خان مؤسسې څخه د کابل سرینا هوټل او د سروبي له دوکانونو څخه طلبات ترلاسه سول او ترځنګ ئې آریانا هوټل د ملي دفاع وزارت ته په میاشتنۍ کرایه او د مزار هوټل، د باغ بالا رسټورانټ او فارم د قرارداد تعهد وسو، چې له درکه ئې په میلیونونو افغانۍ عواید ترلاسه کېږي.
د دولتي هوټلونو شرکت د (٦) هوټلونو (۵ هوټلونه په کابل ښار او یو هوټل په جلال اباد کي) په فعالولو او زرګونو هیوادوالو ته د ملي او نړیوالو خدمتونو په وړاندي کولو سره په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونو هیوادوالو ته د کار زمینه برابره کړې او د خپلو اساسي او غیر اساسي عوایدو له اړخه د دولت له بودیجې سره هم مرسته کوي.
د یادوني وړ ده، چې د هوټلونو دولتي شرکت په (۱۳۳۰ هـ.ل) کال کي د کاروان سرا په نوم فعالیت کاوه. د نړۍ او په ځانګړې توګه په افغانستان کي د هوټلدارۍ د صنعت له ودې سره سم «د کابل هوټل عمومي مدیریت» تر نامه لاندي په رسمي ډول فعالیت پیل او د هوټلدارۍ خدمات ئې وړاندي کړل. د کابل هوټل مدیریت په (۱۳۳۳ هـ.ل) کال کي خپل نوم د هوټل سهامي شرکت ته بدل او خپلو فعالیتونو ته ئې دوام ورکړ. وروسته ئې په (۱۳۵۳ هـ.ل) کي خپل حقوقي شخصیت ته بدلون ورکړ او د هوټلونو د تصدۍ په نامه ونومول سو. په پایله کي د (۱۳۹۷ هـ.ل) کال د مني په موسم کي د دولتي شرکتونو نوی قانون توشیح او د هوټلو تصدۍ حقوقي شخصیت بدلون وکړ، د هوټلونو دولتي شرکت په نامه ونومول سو او د مالیې وزارت په چوکاټ کي ئې خپلو فعالیتونو ته یو ځل بیا دوام ورکړ.

## مرکزي سېلو د خپلو فعالیتونو او تولیداتو د لا پراختیا په موخه له یو شمېر ادارو سره قراردادونه لاسلیک کړي دي

د مالیې وزارت اړوند د کابل مرکزي سېلو دولتي شرکت د خپلو فعالیتونو او تولیداتو د لا پراختیا په موخه له یو شمېر دولتي او خصوصي ادارو سره قراردادونه لاسلیک کړي دي.
د کابل مرکزي سېلو دولتي شرکت، چې د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته له بشپړ فلج حالت څخه فعال حالت ته راوګرځېد او په فعالیت ئې پیل وکړ؛ د روان (۱۴۰۲) مالي کال له پیل راهیسي ئې د خپلو فعالیتونو او تولیداتو د لا پراختیا په موخه د (۴۴،۵۹۵،۰۰۰) افغانیو په ارزښت د (۱۴) بېلابېلو دولتي او خصوصي ادارو سره قراردادونه لاسلیک کړي دي، چې ورسره د یاد شرکت په عوایدو کي هم زیاتوالی راغلی دئ.
مرکزي سېلو اوسمهال په اول او دوهم نمبر فابریکو کي (۱۴) پایې د ډوډۍ پخولو فعال داښونه(داشونه) لري، همدا راز یوه پایه داښ د هرات او یو هم د کندهار په سېلو کي فعال دئ.
د کابل مرکزي سېلو دولتي شرکت اوسمهال په ورځني ډول د یو ټن په اندازه په بېلابېلو ډولو وچه ډوډۍ، کیک، کلچې او ناشتې تولیدوي او په (۲۴) ساعتونو کي د (۴۵) ټنو اوړو د تولید ظرفیت لري.
د یادوني وړ ده، چې په یاده سېلو کي (۲۰۰) کسانو ته په مستقیم ډول د کار کولو زمینه هم برابره سوې ده.



شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

# په ادارو کې د وخت مديريت او اهميت ئې

استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس

وخت او مديريت کول ئې مهم بحث او يو ترکيبي مفهوم دئ، چې موخه ئې د وخت څخه مطلوبه پايله لاسته راوړل دي. موږ ډېری وخت وايو، چې وخت کم او کارونه ډېر دي، بناً هره اداره د وخت اغېزناک مديريت ته جدي اړتيا لري، د وخت مديريت د ژوند مديريت دئ. مانا د نن کار همدا نن تر سره کول، مانا فردي نظم، په کُل کې ټوليز نظم رامنځته کوي. نننۍ نړۍ د گلوبلايزيشن پر لور روانه ده ټول سازمانونه خپلو اهدافو ته د رسېدو په موخه زمانبندي کوي، په اهدافو کې يو مهم اصل دا دئ، چې بايد په ټاکلي وخت کې د تر لاسه کېدو وړ وي، وخت په دوامداره توگه مصرفېږي او د ذخيره کېدلو وړ نه دئ، د الله تعالی له لويو نعمتونو څخه يو نعمت، چې انسان ته ئې په واک کې ورکړی وخت دئ. الله تعالی په خپل پاک کلام کې په شپه، سهار او په ټوله کې په وخت قسم يادوي، رسول الله (ص) فرمايي چې پنځه مخکې له پنځو څخه غنيمت وبولئ، چې يو ئې وخت / فرصت دئ، مخکې له بوختيا څخه يوه فرضي روژه که وخورې په شپيتو حساب ده، يوه د قدر شپه د (۱۰۰۰) مياشتو معادل ده، حج په ټول عمر کې يو ځل په انسان فرضېږي، يوه د عرفې ورځ ده، د مور پلار طرف ته يو ځل کتل د عمرې ثواب لري، ممکن نيمه دقيقه و اوسي، الله تعالی پرته له لمر هم سبزي زرغونولای سي، مگر ورځ او لمر ئې مهم بللي دي، د وخت د مديريت اړوند ممکن تعبيرونه او تعريفونه متفاوت وي، مگر عام او ټول منلی مفهوم دا دئ، چې هر کار په خپل ټاکل سوي او مناسب وخت تر سره کول د وخت مديريت دئ، يا په بل مفهوم د وخت د مديريت برنامه جوړول، هدف ټاکل او لومړيتوب ټاکنه، شخصي انضباط او د کارونو په مؤثر شکل تر سره کول دي، يا په بله مانا وخت د پلان هغې پروسې ته ويل کېږي، چې خپل وخت د فعاليتونو تر منځ په داسي ډول ووېشل سي، چې د وخت د ښه مديريت په پايله کې هر هدف په مشخص او ټاکل سوي وخت کې تر لاسه سي، د وخت په ښه مديريت کې د فعاليتونو پر ځای په پايلو باندي تمرکز کېږي. په دې تړاو د پارتو (۲۰/۸۰) يو اصل دئ دا په دې مانا، چې زموږ (۲۰ سلنه کارونه د ۸۰ سلنه نتايجو) باعث کېږي.

## په سازمانونو کې د وخت د مديريت لپاره لازمي کړني

که د هر سازمان رهبري او نور غړي وغواړي، چې وخت په سمه بڼه مديريت کړي؛ نو لاندي کړني ورته بويه چې تر سره ئې کړي:

۱. لومړيتوبونه ټاکل
۲. مهالوېش جوړول
۳. ليست جوړول
٤. د نن کار سبا ته نه ځنډول
۵. بې ځايه مجلسونه راکمول
٦. نظم رامنځته کول
۷. په يوه وخت کې د يو کار تر سره کول
۸. نه ويل زده کړئ
۹. خپل ليدلوری مالومول
۱۰. ليکلی پلان درلودل
۱۱. ورځنی to do ليست جوړول
۱۲. اخلال کنټرولول
۱۳. ټليفوني اړيکي مديريت کول
۱٤. مؤثري ناستي تر سره کول
۱۵. درست تصاميم نيول
۱٦. بايد په لومړيتوب کې هم اولويت بندي وکړو
۱۷. بايد چاري ووېشل سي: (مهم ،غيرمهم ،عاجل ،عاجل او مهم)

ممکن ځيني نوري لاري چاري هم وي، مهمي او عامي لاري چاري ئې همدا دي..

## د وخت ضايع کوونکي سببونه

وخت ولي ضايع کېږي؟ دا ځکه چې:

۱. گډوډ کاري ميز لرو
۲. تدبير او پلان نه لرو
۳. منظم کاري مهالوېش نه لرو
٤. له حده زيات بې مانا جلسې کوو
۵. بې ځايه په ميډيا کې بوخت يو
٦. نظم نه لرو
۷. تمرکز نلرو
۸. د نن کار سبا ته ځنډوو
۹. مزاحم همکاران لرو
۱۰. منظمي برنامې نه لرو
۱۱. په تکراري کارونو فکر کوو

## د د مديريت پايله

که وخت په بهتر شکل مديريت کړو؛ نو لاندي مزاياوي له ځان سره لري:

مولديت رامنځته کېږي
کارونه په بهتر ډول تر سره کېږي
چټکتيا رامنځته کېږي
له سټريس او فشاره خلاصون
له کار څخه د مراجعينو فوق العاده رضايت
په نفس باور
په ژوند کې توازون رامنځته کېږي
ايماني او ملي مسؤليت به مو ادا کړی وي.

# د نيمروز او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي

روانه اوونۍ د نيمروز او هلمند ولايتونو د گرځنده څارني زړورو کارکوونکو په بېلابېلو سيمو کې هيواد ته د مختلفو قاچاقي توکو له واردولو مخنيوی کړی. په نيول سوو توکو کې (٦٦.۸) ټنه پاکستانۍ مالتې، (۳۰٦۰) کيلو گرامه ککو، (۲٦) ټنه شيريني باب، (۲۰٤۰) کيلو گرامه رُب، (۵۰۰) کارټنه تازه شيدې، (٦۷۸) کارټنه اچار او (۸) عرادې موټر سايکلونه شامل دي، چې غوښتل ئې په قاچاقي ډول ئې هيواد ته وارد کړي. ياد توکي د نورو اجراآتو لپاره د نيمروز گمرک ته سپارل سوي دي.



# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی جایداد های مربوط به شرکت دولتی نساجی بلخ

ریاست شرکت دولتی نساجی بلخ در ربع چهارم سال مالی ۱۴۰۲ یک تعداد جایداد های مازدا ضرورت، ساختمان، زمین سفید و ورکشاپ تجدید و یا جدیداً قرارداد می نماید. اشخاصیکه خوایش داوطلبی را داشته باشند از تاریخ ۱۴۴۵/٦/۲۲ الی مدت ۲۱ روز کاری به شعبه آمریت تجارتی و پلانگذاری شرکت دولتی نساجی بلخ مراجعه شرطنامه را ملاحظه و تضمین تقداً اخذ میگردد.

### اعلان داوطلبی زمین به مساحت ۱۳۷۲ متر مربع مربوط شرکت دولتی سهامی افسوتر

شرکت افسوتر هنگر نمبر (۱) به مساحت (۱۳۷۲) مترمربع ملکیت خویشرا واقع سرای شمالی ده کیپک داخل موسسه آمریت عمومی تخنیکی و ترانسپورتی نمبر (۱) از طریق دواطلبی به کرایه میدهد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش به کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواستی و آفرهای خویش را بعد از تاریخ ۱٤٤۵/٦/۲۸ الی ۲۱ روز به آمریت عمومی تخنیکی نمبر (۱) واقع سرای شمالی کابل سپرده خود و یا نماینده قانونی شان ساعت (۱۰) بجه قبل از ظهر در جلسه آفرگشایی اشتراک نموده شرطنامه را ملاحظه تامینات نقداً اخذ میگردد.

### اعلان داوطلبی تدارک و کندنکاری برای کیبلینگ کمره های امنیتی ریاست عمومی گمرکات

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء( تدارك و کندنکاری برای کیبلینگ کمره های امنیتی ریاست عمومی گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه MOF/1402/NCB/G-097 که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ 30/ جدی /1402 ساعت 10:00 قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ 10/ دلو /1402 ساعت 10:00 قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ 100,000 (یکصد هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: 0202924156

### اعلان داوطلبی تهیه و تدارک پرزه جات UPS دیتا سنتر مرکز وزارت مالیه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء(تهیه و تدارك پرزه جات UPS دیتا سنتر مرکز وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه MOF/1402/NCB/G-057-REBID که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ 01/ دلو/1402 ساعت 10:00 قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ 12/ دلو/1402 ساعت 10:00 قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ 20،000 (بیست هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: 0202924156

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمني SHTAMANI
اوونيزه



## Construction Projects Worth 51.5 mln Afs of Nangarhar Customs Inaugurated in Kabul Camp Customs




Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Mullah Abdul Qahir Edris along with the General Director of Customs, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed and Director of Customs Support and Development, Mohammad Musa Omar of General Directorate of Customs, made an official visit to Nangarhar Province, where in the existence of Nangarhar Governor Mullah Mohammad Naim Akhund and Director of Nangarhar Customs, Mohammad Khalid Manzur Ahmad inaugurated the construction projects worth 51.5 million Afs in Kabul Camp Customs related to Nangarhar customs. These construction projects include Kabul Camp Customs 6,700 meters enclosure or surrounding wall and seven towers, which will be completed within the next 10 months. "It is planned to implement the same development projects in other customs offices of the country due to further development of business in the country and create more convenience for businessmen that will have positive consequences." – said Deputy Minister of Customs and Revenues at the opening ceremony of the mentioned projects. Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed asked the contractor company to seriously consider the contents and conditions of the contract and complete the operational works in a standard manner within the specified period. Notably, the budget for these mentioned construction projects is provided from the development budget of MoF.

## Meeting Held to Select, Prioritize New Development Projects for Fiscal Year 1403 H

PEC (Project Evaluation Committee) meeting for the purpose of selection and prioritization of new development projects for the financial year1403 H. was convened under the chairmanship of Jalil Ahmad Mawandi, the Director of Public Investment Management of DM for Policy in the conference hall of DM for Policy of MoF. The Director of National Budget Planning and Reform of MoF, Ghulam Omar Abdullah; the Director of Planning and Unity of the Ministry of Economy, Hafizullah Sultani; the Director of Integration and Coordination of Economic Cooperation of IEA's Affairs Agency (AOP),Muhammad Ajmal Khan Karimi and many other officials of MoF also attended to the session. In the this meeting, there was a discussion and exchange of views regarding the development projects of the budget units, out of the 114 projects presented to the committee, only 26 projects were approved on behalf of the committee and the remaining projects were postponed to the next meeting, in order to check them under the umbrella of sufficient information and documents. It is merely worth noting that according to the Public Investment Management Regulation, all new projects' processes of the budget units in accordance with the prioritization and selection of development are carried out by PEC in the pre-investment stage.






## د (PAJCCI) اداري د پاک ـ افغان ټرانزيټ او دوه اړخيزي سوداګرۍ د ځنډېدو له بابته اندېښنه ښرګنده کړې

د بيزنيس ريکارډر ـ Business Recorder په نوم يوې پاکستاني رسنۍ د پاکستان ـ افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو د ګډې خوني (PAJCCI) په حوالې سره د هغو اندېښنو په اړه راپور خپور کړئ دئ، چې په خبره ئې د پاک ـ افغان ټرانزيټ او په دوه اړخيزي سوداګرۍ کي د موجوده کړکېچ له مخي ئې د افغانستان او پاکستان سوداګري اغېزمنه کړې ده. د يادي اداري مشر جنيد د پاکستان د صادراتو د خرابېدو په لاملونو کي «د افغانستان له خوا پر خارجي سوداګريزو توکو د تعرفې لوړېدل» ياد کړي دي، چې وايي په دې سره د پاکستان صادرات و افغانستان ته د تعرفې لوړېدو په وجه تر منفي اغېز لاندي راغلي دي. په راپور کي نه يوازي دا چې د افغانستان له خوا پر ځينو وارداتي توکو د تعرفې د لوړېدو پر بنسټ د پاکستان صادرات زيانمن بلل سوي دي؛ بلکي د يادي اداري مشر جنيد په پاکستان کي پر عادي توکو باندي (٪۱۰) د طی مراحلو فيس، د لېږد رالېږد له پاره د ځينو توکو منع کول، او د بيمې دوراني تضمين په بانکي تضمين سره بدلېدل هغه لاملونه ياد کړي دي، چې وايي دا به پر سوداګرۍ منفي اغېز وکړي. راپور کاږي، چې د تعرفې د لوړېدو له امله پر پوله بند د استعمال يا استهلاکي توکي او همدارنګه پر پوله جوړ احتجاج به سوداګري نوره هم کړکېچنه او بدتره کړي. په راپور کي د يادي اداري سپارښتني هم راغلي دي، چې وايي پر دې حالت دي له سره غور وسي او داسي حالت د دواړو ملکونو په خير نه تماميږي. د پاکستان او افغانستان ترمنځ د توکو او خدماتو د لېږد رالېږد پر وړاندي د خنډونو د ليري کولو له پاره دي سمدستي ګامونه اوچت سي. د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت دوې اوونۍ مخکي د تعرفې لوړېدو اړوند يو راپور خپور کړ. د ماليې وزارت په دې راپور کي د روان مالي کال د تعرفې کمېټې په پينځمه ناسته کي پر نهو اجناسو باندي تعرفه ځکه لوړه سوې وه، چې د دې توکو بديل خپله افغانستان لري، په هيواد کي دننه توليديږي او تر ډېره پوري د هيوادوالو اړتياوي پوره کولای سي.


ويبپاڼه: mof.gov.af
ټويټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

۱٤۰۲ - ۱٤ / د جنوری ٤ - ۲۰۲٤ /دوهم کال / ۸۱ گڼه/ ٤ مخيز ۴

### Fifth Session of Tariff Committee of Current Fiscal Year Convened

The fifth meeting of the Tariff Committee of the current fiscal year led by Deputy Minister of Customs & Revenues, Mullah Abdul Qahir Edris was held in the meeting hall of DM for Customs and Revenues.

Hon. Nooruddin Azizi, Minister of Industry and Commerce of Afghanistan and the members of the Tariff Committee also attended the meeting. According to the request of businessmen and industrialists, considering the basis of supporting domestic production, business and state revenues, the customs tariff of some imported items was decided as follows, after the approval of the MoF, it will be applicable in all customs of the country.

| NO. | Item | Previous Tariff | New Tariff (based on decision) |
|---|---|---|---|
| 1. | Tomato Ketchup | 10% | 30% |
| 2. | Powder For Washing Clothes | 12% | 16% |
| 3. | Matches | 5% | 10% |
| 4. | MDF Boards | 5% | 10% |
| 5. | Iron nails | 8% | 12% |
| 6. | Fence | 8% | 16% |
| 7. | Digital Weighing Scales | 2.5% | 5% |
| 8. | Thresher machines | 16% | 20% |
| 9. | Live chickens | 20% | 40% |

The tariff is increased on the mentioned goods while Afghanistan has its own substitute for these products or .items; they are produced within the country and can meet the needs of the compatriots

### Nimroz Customs Mobile Surveillance Staff Seizes Various Contrabands Amid Patrols

د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.